# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| حقوق بشر | Human rights |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعی


۰۹ جون ۲۰۱۲

## خوني توپان

خدایه واخلي دا نامرده مزدوران
دا خرڅ سوي دا مخ توري خاینان
له آمو تر اباسینه، له کونړه تر هراته
د افغان مېنه سوه اور د جنگ میدان
کور په کور، کلي په کلي محشر جوړ سو
هم په سرو وینو رنگین ښار و بیابان
د ناورین مېچنې څرخي پر سرونو
هره خوا آه و ناله، درد و فِغان
طیارې دي که ډرونونه که ټانکونه
هر څه سوځي، لمبې بلي تر اسمان
مزدوران په ارگ کې ناست دي ننداري کړي
پردي گرځي زموږ په خونه او دالان
قتلیي مو، لوټیي مو، شرمیي مو
نه خوندي مو دئ ناموس نه سر وځان
د بابا وطن یې وسپاره پردو ته
تو، لعنت پر داسې مشر بې ایمان
د مریانو په دود ناخي خپل بادار ته
کړه غاړه او مرې سترگي پادَوان
ډېر یې نېست کړه دي خونخورو تاړاکگرو
ډېر به نېست کړي لا په دې خوني توپان

ډېره وْلاړه لړ. وَلاړه ده هارونه!

د سِتم ، خيانت همېش دئ لنډ دوران